# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

**فرستنده: ش. حمید**

نزدهم جون 2013

## د بزګر د بچي غږ

شعر زنده یاد سیدال "سخندان"

به مناسبت چل و یکمین سالروز شهادت وی

ستره ملاکه نور ستا ژغ په غاړه وړلي نشم
ستا د پښو لاندې ځپلي ژوند کولي نشم
چي په ښېره دي وهلم ما به خړ خړ کتل
کله به ناست وم نو لجـن کله پلاړ ته ژړل
اوس ځلمي شوي یمه ستا ظلم زغملي نشم
ستا د پښو لاندې ځپلي ژوند کولي نشم
ته کرار ناست یی زه شپه ورځ یمه په کار کښی لګیا
په ګیده وږي تن مي لـــــوڅ دي ژوند کوم په بیدیا
مري دي نیسمه خــــــــــپل مزد پرېښودلي نشم
ستا د پښولاندې ځپلي ژوند کولي نشم
ستا باداري زما مزدوري به وي تر کـــومه وخته
ته روغ رمټ زما رنځوری به وي تر کومه وخته
پلاړ می ستا وکړه غـــــــلامي، زه یی منلي نشم
ستا د پښو لاندې ځپلي ژوند کولي نشم

زما په غــــــوښو دي آبادي کړي ماڼي مناري
سري دي کړي زما غريب په وينو بلډنګ کټاري
آخــر به زماشي خپل حقوق درى پريښودلي نشم
ستا د پښو لاندي ځپلي ژوند کولي نشم

زما هډوکي ړدي تعمير کي د ګــــــاډر په نامه
سترګي مي ړدي په ديوالو کښي د مرمر په نامه
بس دي پخپل بدن ماڼي آبـــــــــــــادولي نشم
ستا د پښو لاندي ځپلي ژوند کولي نشم

تل خوښوي غټان له ځانه زما په زړه او ځګر
مست دي کړل واړه لعينان زما د لاس په ثمر
دير دي حلال کړل ګــــوره زه حلاليدلي نشم
ستا د پښو لاندي ځپلي ژوند کولي نشم

د جوار په ځير به دي کوتکو لاندي ويرځوم
له شدادي شان او شوکت نه به تا وغورځوم
ستا چــم و چل راته معلوم شو غوليدلي نشم
ستا د پښو لاندي ځپلي ژوند کولي نشم

خاشه مي مه ګڼه دبر تينــګ غيرت ايمان لرمه
ويني به تويى کړم له تا نه ډير غيرت توان لرمه
دير دي ايثار کــــــړم پس له دي ايثاريدلي نشم
ستا د پښو لاندي ځپلي ژوند کولي نشم

ستا غټه کيده به کړم ځيري لرم لاس کښي غټ لور
حق دي ړانکړ په خوښي اوس به يى اخلم په زور ړانه کړ
نور دکتړي په شيشکانو ويريدلي نشم
ستا د پښو لاندي ځپلي ژوند کولي نشم

د تا په وينو څـوونه وينځمه لاس او پښي
ورکي به نشي له وطنه د ظلمونه ريښي
اوس خـــــوځيدلي يمه شاته تمبيدلي نشم
ستا د پښو لاندي ځپلي ژوند کولي نشم

د حق ناري په هــــر لور اورمه غوږونه لرم

زه په هم غبږ کرمه په زره کي ډير دردونه لرم

زه «سخندان» د بزگر زوي نور صبريدلي نشم

ستا د پښو لاندي ځپلي ژوند کولي نشم